ډاکټر عبدالرحمن زماني

# د کرهالي د شهیدانو پنځه دیرشم تلین
# انتقالي عدالت او دکرزي صاحب حکومت

د وري (حمل) د میاشتې یودیرشمه (۳۱) یا داپریل د میاشتې شلمه (۲۰) نیټه د کونړ د کرهالي د کلي د یو زر دوه سوه او شپیته (۱۲۶۰) تنو بې وسلي اولسي خلکو د ډله ایزې وژنې د پنځه دیرشم تلین سره برابره ده. د کرهالي کلي د کونړ په مرکز اسعدآباد پورې مربوط یو کلي دئ، چه د اسمار او جلال آباد پر لویه لاره پروت او د چغان د تاریخي غونډی په لمنه کې په هغه ځای کې موقعیت لري، چرته چې دکونړ لوی سیند او د پیچ د درې سیندونه سره یوځای کیږي .

د ۱۳۵۸ لمریز هجري (۱۹۷۹ م کال) پدغه ورځ، چې د جمعې ورځ وه، د کرهالي د کلي بې ګناه او بې دفاع اوسیدونکي د روس پلوه خلقیانو او پرچمیانو د ګوډاګي کودتائي رژیم لخوا د سیند پرغاړه یوه میدان کې د غونډې اوخبرو دپاره سره راټول او په ډله ایزه توګه په ډیرې بې رحمی په ګولیو وویشتل شول، او بیا یې پداسې حال کې د بلدوزرو په وسیله په دوو ډیریو کې تر خاورو لاندې کړل، چې یو شمیر یې لا ژوندي وو، او پر سر انبار شوې خاوره یې خوځوله .

دکرهالي د قربانیانو ګناه دا وه چې یوه شپه مخکې د ګوډاګي حکومت مخالفو وسله والو مجاهدینو د دوی کلي ته په ننوتلو سره د ولایت په مرکز حمله او په چغه سرای مشهور د اسعدآباد د نیولو هڅه کړې وه .

## دکرهالي د ډله ایزې وژنې مسؤلین

د بیلابیلو رپوټونو له مخې ددغو لاندینیو جلادانو لاسونه په مستقیم ډول دغې فاجعې کې ککړ وو :

1. شهنواز شیوانی، د کونړ والی
2. سپین جان لالهاند، د کونړ د ولایتي شورا منشي
3. صادق عالمیار، د کماندو د کنډک قومندان
4. عبدالحق، د ۶۹ غونډ قومندان
5. ګلرنګ، د کونړ دولایت د جبهې عمومي قومندان
6. جګړن غفار، د مرورې د کنډک قومندان
7. تورن سید محمد، د دافع ټانک قومندان
8. محمد شاه د محی الدین ځوی د کماندو د ټولي قومندان
9. امام الدین لوګری، د عسکرې قواوو قومندان
10. جګړن بهرام الدین، د ۱۱ لوا عملیاتی افسر
11. شمشیر نړیوال، د ولایت د تعلیم او تربیې رئیس
12. نورالرحمن، د سرحداتو رئیس
13. ډاکټر بادام ځوکیوال، سیاسي کدر او د ولایتي شورا غړی

14. محمد نعیم [د] میرعلی جان [ځوی] سیاسي کدر او د ولایتي شورا غړي [

15. محمد یعقوب نرهنگی، مستوفی
16. عبدالقادر، سیاسي کدر او د ولایتي شورا غړي
17. ډاکتر نعمت، سیاسي کدر او د ولایتي شورا غړي
18. چمتو، د پیچ ولسوال، سیاسي کدر او د ولایتي شورا غړي
19. شاهدل، د سیاسي کدر غړي او د عمراخان د لیسي مدیر
20. نظام الدین بی خدا، سیاسي کدر او د ولایتي شورا غړي

البته په دغه تاریخي جنایت کې د خلکو د ډیموکراتیک ګوند هغه کونړي حزبي مشران هم شامل دي ، چې له کابل څخه یې د کونړ دولایت دچارو اداره په لاس کې درلوده، او که څه هم دپیښې په ځاي کې حاضر نه وو، خو د پوځي او سیاسي تصامیمو په نیولو کې یې ګډون درلود، او لومړي درجه مسؤلین ګڼل کیږي . دیادوني وړ ده چې ددغه ډله ایزي وژني په وخت کې لا روسي پوځي قواوو په افغانستان تیري کړي نه وو، خو د شاهدانو په حواله څلور تنه روسي مشاورین د پیښي په ځاي کې حاضر وو.

دکرهالي د ډله ایزي وژني قربانیان




محترم هیوادوال کولاي شي د کرهالي د قربانیانو په هکله د زیاتو معلوماتو او د شهیدانو د نومونو د بشپړ لست دپاره زما هغه مضمون ولولي چې د « [لست ۱۲۶۰ قربانی قتل عام قریهٔ کرهاله در ولایت کنر](#) » تر عنوان لاندې د جرمن افغان آنلاین ، دعوت، او بورا په ویب پاڼو کې دمخه خپور شویدئ .

په قربانیانو کې دغه لاندي کسان شامل ول :

غریبکار ۶۷۶ تنه، زده کوونکي ۲۱۴، بزگر ۱۶۷، ښوونکي ۵۷، دولتي مأمورین ۲۷، ترکانان/ نجاران ۱۵، خټګر۱۰، د ۱۲ ټولګي فارغان ۱۱، هټی وال ۲، مولوي او ملا ۵، وسپن پښ/ آهنګر ۷، بنوال / باغوان ۴، ګنډونکي / خیاط ۴، سرښوونکی ۲، صاحب منصب ۲، محصل ۲، لیونی ۱، مستري ۱، ګدام وال/ ګدامدار ۱، تحویلدار ۱، نور ۵۱، او ټول ۱۲۶۰ تنه.

## د بشري حقوقو څخه سرغړونه او د اولسي خلکو وژنه لا اوس هم دوام لري

نه یواځې د کونړ خلک، بلکي زمونږ د ګران هیواد ټول خلک د تیرو دري نیمو لسیزو جګړو د هر پړاو په ترڅ کې د بشر د حقوقو د سرغړونو، ډله ایزو وژنو، او جنګي جنایاتو شاهدان او قربانیان وو. له بده مرغه په تیرو دیارلسو کلونو کې هم د خلکو د هیلو سره - سره نه یواځې د تیرو دورو د جګړو د قربانیانو ستونزو او فریاد ته د کرزي صاحب د حکومت او نړیوالي ټولنې لخوا د پام وړ توجه نده شوې، بلکي د بشري حقوقو څخه سرغړونه او د ولسي بیګناهو خلکو وژنه لا اوس هم دوام لري .

دملګرو ملتونو دبشر د حقوقو پنځه ویشتمي غونډې ته د سږکال د جنوري دمیاشتې په وړاندې شوي رپوټ[i] کې راغلي دي چې په افغانستان کې د بشر د حقوقو حالت په پرلپسي توګه د ستونزو سره مخامخ دئ . په وسله والو شخړو کې داولسي خلکو ساتنه یوه ستره اندیښنه ده . د ۲۰۱۳ کال په لومړیو یولسو میاشتو کې د ۲۰۱۲ کال د همدغه مودې په پرتله د اولسي خلکو په مرګ ژوبله کې په سلو کې لس (۱۰٪) زیاتوالی راغلی دئ . د ۲۰۱۳ کال د جنوري د میاشتي د لومړۍ نیټي څخه د نومبر دمیاشتي تر دیرشمي نیټي پورې د افغانستان دپاره د ملګرو ملتونو د مرستو د دفتر (یوناما) United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA) او د بشر د حقوقو دپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنری United Nations High Commissioner for Human Rights (OHCHR) سره د اولسي خلکو د مرګ ژوبلي اوه زره اته سوه نه نوي (۷۸۹۹) پیښې ثبت شویدي، چې په هغې کې د وژل شوو شمیر دو زره اوه سوه دیرش (۲۷۳۰) او د ټپي شوو کسانو شمیر پنځه زره یوسلو نه شپیته (۵۱۶۹) تنو ته رسیږي . د یوناما له مخې د اولسي خلکو د مرګ ژوبلي ۷۵ ٪ مسؤلیت د حکومت د وسله والو مخالفینو په غاړه، او لس ( ۱۰ ٪) د حکومت د امنیتي قواوو په غاړه دئ . ددغه رپوټ له مخې ولسي خلکو ته د مرګ ژوبلي ۱۱٪ د حکومت او مخالفینو د نښتو له امله، او ۴٪ په جګړه کې د استعمالیدونکو چاودیدونکو موادو له امله منځ ته راغلي دي .

## سوله او عدالت د افغانستان د خلکو دوه مهم خو ستونزمن آرمانونه

افغانان د یوه با ثباته، پرقانون او ولسواکی (دیموکراسی) ولاړ نظام غوښتونکي دي، او د تیرو دري نیمو لسیزو جګړو نه راپاتي د بشر د حقوقو څخه جدي سرغړونو میراث په دوي کې له هر وخت نه زیات پر عدالت ولاړ دسوله ایز ګډ ژوند آرمانونه او هیلي قوي کړي دي .

مونږ کولای شو په هیواد کې د یوه سوله ایز ژوند لوري ته د اوښتون ، او په قانون ولاړ ټولنیز نظام د اړتیاوو سره سم د وګړو د ګډ ژوند د

بنسټ ایښودلو د لارو چارو په لټون کې د نړۍ د نورو ورته هیوادونو د تجاربو څخه استفاده وکړو. دجګړې پر مهال او د جګړې نه وروسته ټولنو کې دقانوني واکمنۍ او انتقالي عدالت په اړه د ملګرو ملتونو د عمومي منشي په رپوټ کې ټینګار شوی دئ چې عدالت ، سوله او ولسواکي د یوبل څخه جلا مفاهیم ندي، بلکې د یوې واحدې ټولګې برخې جوړوي .

## انتقالي عدالت، د خلکو هیلي او د کرزي صاحب دحکومت دوره

د پایداري سولې او ثبات رامنځته کول، په تیرو لسیزو کې د رامنځته شویو جرمونو پر وړاندې غبرګون، د مجرمینو او قربانیانو ترمنځ مصالحه او د شخړو ډک تیر حالت څخه یوې ګډې راتلونکې ته اوښتون په ټولو د جګړې نه وروسته هیوادونو کې خورا ګران کار دئ . خو د بن د کنفرانس نه وروسته د افغانستان د انتقالي حکومت ژمنې، افغانستان کې د امریکې او ناټو د قواوو مستقیمه مداخله ، او په افغانستان کې د یوې دیموکراتیکې اداري د جوړولو شعارونو، او دانتقالي عدالت د پروسې د مخکې بیولو هڅې، په خلکو کې سولې او عدالت ته د رسیدو هیلي زیاتې کړی وی . او پدې لاره کې یو څو ضعیف ګامونه هم واخیستل شول چې په هغې کې د هیواد د نوي اساسي قانون له مخې د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسیون جوړول، تیرو شوو جرمونو ته د رسیدګي دپاره د انتقالي عدالت د ملي ستراتیژۍ وړاندیز، او «عدالت لپاره د خلکو غږ» تر عنوان لاندې د افغانستان د بشر حقوقو د خپلواک کمیسیون رپوټ چې د شپږ زره (۶۰۰۰) افغانانو سره د مشورې په پایله کې خپور شو، شامل دي .

انتقالي عدالت په یوه هیواد کې د جنګي جرایمو او د جګړې په ترځ کې د بشر د حقوقو څخه د سرغړوني هر اړخیزه څیړنه ده . د انتقالي عدالت د تطبیق هدف په ټولنه کې د قانون حاکمیت، او د عدالت، سولې او دیموکراسۍ تامین دئ . د انتقالي عدالت مفکوره د لومړي ځل لپاره په ۱۹۵۰ میلادي کال کې د دوهمې نړیوالې جګړې نه وروسته د نورامبورګ په نړیواله محکمه کې د نازیانو د نظام د مشرانو محاکمې سره پیل شوه او بیا وروسته په نورو هیوادونو کې هم عملي شوه.

دافغانستان د بشر حقوقو خپلواک کمیسیون او یوناما د ۲۰۰۵ کال د جون د میاشتې په ۶ او ۷ نیټه په هاګ کې د سولې، مصالحې او عدالت په غونډه کې د انتقالي عدالت د عمل برنامه د بحثونو وروسته جوړه کړه. د هیواد د واقعیتونو په پام کې ساتلو او ددیني ارزښتونو د سولې او ثبات د اړتیا پر بنسټ د انتقالي عدالت د اصلي عناصرو پلي کول په پنځو اساسي برخو کې په نظر کې نیول شوي وو :

1. د افغانستان د خلکو په کړاوونو اعتراف کول
2. داعتبار وړ او سالمو دولتي ادارو جوړول او ددولتي ادارو څخه د بشري حقوقو د ناقضینو او جنایتکارانو لرې کول
3. حقیقت موندنه او مستند کول
4. د پخلاینې د دود او ملي یووالي پیاوړتیا
5. دخواب ویلو معقول او اغیزمنې لارې چارې پیدا کول.[ii]

له بده مرغه د انتقالي عدالت په وړاندي د کرزي صاحب د حکومت لومړني او ستر خنډ په ۲۰۰۷ کال کي **د ځان بخښني د هغه منشور منل وو چي ولسی جرګې تصويب کړ . په دغه منشور کې راغلي دي چي د ولسمشر کرزي په مشرۍ کې د لندمهالي حکومت تر پيل وړاندې چې کومې بيلا بيلې ډلې په کورنی جګړه کې ښکيلې وې له عدلي او قضايي تعقيب څخه ژغورل شوي دي .** دا ماده داسي معنا لري چي تر طالبانو وړاندي په کابل کې په تنظيمي جګړو کې ښکيلي غاړي څوک د هغو اعمالو په باب نه شي پوښتلی . **د دغه منشور تصويب نه يواځي د افغانستان د اساسي قانون سره ښکاره تضاد لري، بلکې د انتقالي عدالت د عمل پلان، او هغو بين المللي عدلي مسئوليتونو ته هم شا کول دي، دکومو چي د ۲۰۰۳ کال راهيسي افغانستان غړيتوب لري .**

دکرزي صاحب د حکومت بله ستره جفا د شوونځيو د تاريخ د کتابونو څخه د وروستيو دريو لسيزو لري کول وو. خو تر دي هم ستره جفا د ملګرو ملتونو د هغه رپوټ سره مخالفت او د هغي د خپرولو مخنيوی وو چي په افغانستان کي د ۱۹۷۸ کال د اپريل د ۲۷ نيټي څخه تر ۲۰۰۱ کال د دسمبر تر ۲۲ مي نيټي پورې د ټولو وسله والو ډلو لخوا د جنايتو د نقشي Mapping report of crimes committed by all armed factions in Afghanistan between April 27, 1978 and December 22, 2001. تر عنوان لاندي برابر شوي وو.

## دانتقالي عدالت د پروسي د پرمخ بيولو ضرورت

سولي ته د رسيدو دپاره د عدالت د تامين مسئله بنيادي ارزښت لري، او د عدالت دتامين لپاره بايد د خلکو غوښتنو ته توجه وشي . دا چې د تيرو انتخاباتو په نتيجه کي به جوړيدونکي راتلونکي حکومت څومره د انتقالي عدالت د پروسي ددوام او د بخښني د منشور د لغو کولو دپاره کوټلي اقدامات وکړي، وخت به يې ثابته کړي، خو له کومه ځايه چې دانتخاباتي مبارزو او کمپاينونو په ترڅ کي انتقالي عدالت د کانديدانو په اجندا کي برخه نه درلوده او ګڼ شمير کانديدان يا پخپله د بشر د حقوقو په تيري او سرغړونه تورن او يا يې د معاونينو لاسونه د ولسي بيګناهه خلکو په وينو سره دي، نو له دوی څخه پدې لاره کي د اقداماتو تمه کيداې نشي . خو که نړيواله کړۍ بيا هم چوپتيا اختيار او مدني ټولني بې تفاوته پاتې شي، نو بيا به د بشري حقوقو د تيري کونکو د معافيت دا کلچر او د افغان کړيدلي ملت دا غميزه د زيات وخت دپاره دوام ومومي .

(پای)

---

[i] . Report of the United Nations High Commissioner for Human Rights on the situation of human rights in Afghanistan and on the achievements of technical assistance in the field of human rights in 2013

[ii] په افغانستان کي (سوله، پخلاينه او عدالت) د عمل برنامه، د ۲۰۰۵ کال د جون ۶-۷